Co-funded by the European Union

ERIN
European Reintegration Network

International Organization for Migration
سازمان بین المللی مهاجرت
د کډوالۍ نړيواله اداره

# د بيا ميشته کيدني مرستو اروپايي شبکه (ERIN)
# د ځانګړي فعاليت پروګرام

## د افغانستان لپاره مالوماتي پاڼه

**د هغو افغانانو لپاره چې د استراليا، اتريش، بلجيم، ډنمارک، فنلند، فرانسه، جرمني، يونان، ايتاليا، لګزمبورګ، مالټا، نيدرلند، ناروی، روماينا، اسپانيا، سويډن، سويزرلند او برتانيې څخه راستنيږي، د راستنيدنې وروسته د بياميشته کيدني مرستې**

## غوښتنليک او غوراوی

هغه افغانان چې د ۲۰۱۵ او د ۲۰۱۶ په اوږدو کې د استراليا، اتريش، بلجيم، ډنمارک، فنلند، فرانسه، جرمني، يونان، ايتاليا، لګزمبورګ، مالټا، نيدرلند، ناروی، رمانيا، اسپانيا، سويډن، سويزرلند او برتانيې څخه پخپله خوښه راستنيږي او يا هم اجباراً استول کيږي، کولی شي د آی او ايم افغانستان څخه مرستې ترلاسه کړي. هغه څوک چې غواړي د ERIN د ځانګړو فعاليتونو پروګرام څخه مستفيد شي بايد تر ستنيدنې وړاندې په ميشت اروپايي هيواد کې د ځانګړو فعاليتونو پرواګرام د اړيکو مسؤول د لاري درخواست ورکړي. د خپلې خوښې راستنيدونکي، بې سرپرسته کډوال ماشومان او همدارز اجباري ايستل شوي راستنيدونکي په پروګرام کې د ګډون وړ دي. په پروګرام کې د ګډون ورتيا زياتره وخت تر ستنيدنې وړاندې جوتيږي او بيا د آی او ايم د دفتر لخوا يې تر ستنيدنې وروسته د استوونکي هيواد د شرايطو سره سم تاييد کيږي.

## د کډوالی نړيوالې اداري (آی او ايم) دريځ

په کال ۱۹۵۱ کې تر تاسيس وروسته د کډوالی نړيواله اداره د کډوالی په برخه کې د يوې مخکښې بين الدولتي ادارې په حيث رول لوبوي او دې اصل ته ژمنه ده چې منظمه او بشنه کډوالي تولنې او کډوالو دواړو ته ګټوره ده. آی او ايم په نړيواله تولنه کې د خپلو همکارانو سره کار کوي ترڅو په کډوالی کې پراخيدونکو عملياتي ننګوونو ته ځواب وويلی شي، د کډوالی اړوند مسايلو لازياته پوهنه کې مرسته وکړي، د کډوالی د لارې اقتصادي او ټولنيزه پراختيا وهڅوي او د کډوالو د سوکالي او بشري حقوقو څخه ملاتړ وکړي. د ۱۶۵ غړيو دولتونو سره، ۸ نور اضافي دولتونه کوم چې د څارونکي حيثيت لري او د ۱۰۰ څخه پورته هيوادونو کې.

آی او ايم د مرسته شوي راستنيدنې او بيا ميشته کيدنې (AVRR) برخه کې د شاوخوا ۴۰ کلنې تجربې لرلو سره د يوې ترټولو مخکښې اداري په حيث منل شوي او پيژندل شوي ده. د نړی په کچه په ۴۰۰ ځايونو کې د ساحوي دفاترو د شبکې د لارې آی او ايم کولی شي ټولو شريکانو او سهم لرونکو ادارو ته د (AVRR) پروګرامونه پلي کړي. د اداري ځايي شتون او مشارکت ددې لپاره هم اړين دي ترڅو باوري کړي چې کډوالو ته غوره خدمتونه وړاندې کيږي. آی او ايم ته يو بې ساری موقف ورکړل شوی ترڅو د راستنيدنې او بيا ميشته کيدنې ټول پړاوونه د خپلو دفترونو يا هم د شريکانو د دفترونو د لارې په اصلي يا کوربه هيوادونو کې همغږي کړي. په ساحه کې د آی او ايم دول ډول فعاليتونه ( د بيړنيو مرستو، روغتيايي مرستو، مصؤونيت او داسې نورو برخو کې) د راستنيدونکو کډوالو د بيلابيلو اړتياوو په پوره کولو کې په هراړخيز ډول مرسته کوي، د بيلګې په ډول د ځايي شريکانو د ارجاع يا معرفي کولو د شبکو رامنځ ته کولو د لارې.

د يو بين الدولتي اداري په حيث آی او ايم وياړي چې د کډوالو په ګټه د يو اعتاد وړ مخاطب په څير د اصلي، ترانزيت او کوربه هيوادونو لپاره کار او د ټولو اړخونو ګټې په متوازن ډول انعکاس کوي

## د رارسيدلو پرمهال او بياميشته کيدنې مرستې

د بياميشته کيدنې مرستو بنډل د جنس په شکل ورکول کيږي، مګر که چيرته په ملي ضميمه کې بل شان ذکر شوي وي. د مرستې مقدار د استوونکي هيواد، د بياميشته کيدنې ملي مرستو، د راستنيدنې څرنګوالي او د ګټه اخيستونکي شاليد او اړتياوو پورې تړلې لري. د بياميشته کيدنې اضافي خدمتونه به بې سرپرسته کډوال ماشومانو ته ورکول کيږي. د راستنيدنې څخه وړاندې د ايرين ملګري اداري لخوا د پلټنې او ارزوونې وروسته او همدا راز د راستنيدنې څخه وروسته د اړتياوو د تشخيص پر مهال به دغه لاندې خدمتونه د(ERIN) د ځانګړو فعاليتونو ګټه اخيستونکو ته وړاندې شي.

### په هوايي ډګر کې د راستنيدنې پرمهال مرستې

- د هرکلي، روغ بړ او لاربښوونو مرسته
- تر وروستي ځمځايه ترانسپورتي مرسته
- د درملنې د دوام لپاره بيړنۍ روغتيايي پاملرنې ته ورپيژندل
- د يوې اونۍ لپاره د اوسيدنې بيړنۍ مرسته

## د بياميشته کيدنې مرستې

د هيواد په کچه به د آی او ايم په دفترونو کې د هغې د تکره او لايقه کارکوونکو لخوا به د راستنيدنې وروسته مشوره ورکول کيږي. د آی او ايم مشوره ورکوني به راستنيدونکو او د هغوی کورنيو ته د بياميشته کيدنې په امکاناتو مالومات ورکړي او د هغوی سره به د بيا ميشته کيدنې د ستراتيژۍ په پلان کولو کې مرسته وکړي چې څنګه کولی شي د خپلو اړتياوو، شاليد او همدارز

موجودو سرچینو (لکه تعریف شوي مرستي، فردي ورتیا، او تولنیز او اقتصادي پانګه ) په پام کې نیولو سره خپلې مرستې په رغنده او بهتره توګه ولګوي

د بیامیشته کیدندي مرسته به د لاندې خدمتونو لپاره کارېږي.

- د اقتصادي خپلواکی او د عاید تولید لپاره د کوچني کاروبار په پیلولو، بیا پیلولو یا شراکت کې مرسته
- د استخدام هڅوونې لپاره د معاش اعانه/مرسته: آی او ایم کولای شي تاسي د خپلو شریکانو د شبکې د لارې بالقوه کار ګماروکو ته وروپیژني. که چیرته تاسي دنده واخیسته، د بیامیشته کیدندي مرسته به تاسي ته د اضافي معاش او سرباري په ډول درکړل شي.
- د مهارتونو او کارموندنې د پیاورتیا لپاره په مسلکي روزنو کې شمولیت: روزنې به د موجودیت، پخوانۍ کاري تجربه، تعلیم، دلچسپي او د ځانګړو مهارتونو لپاره د ځایي مارکیټ غوښتنو پر بنسټ تشخیص کیږي.
- د سمدستي مادي ارتیاوو لپاره د ځواب په موخه لنډمهاله استوګنه
- روغتیایي لګښتونه (درمل او مشوره) ترڅو وکولای شئ روغتیایي پاملرنو ته لاسرسی ولرئ.
- کیدای شي دغه مرسته د ماشومانو د زده کړې په لګښتونو او یا اړینې روغتیایي پاملرنې کې وکارول شي.
- حقوقي/اداري لګښتونه ترڅو وکولای شئ ځان په ځایي توګه ثبت کړئ.

## اداری ملاتړ او معرفي کول

آی او ایم کولی شي تاسې سره اداري مرسته وکړي او لاندې ذکر شویو خدمتونو ته وروپیژني:

- ملي، سیمیز او ځایي خدمتونه (دولتی، غیر دولتي، خیریه، او نور.)
- ځایي کاري نوونښتونه
- د کوچنیو پورنو اداري
- په ښوونځیو او پوهنیزو بنسټونو کې شمولیت
- تعلیمي او مسلکي روزنې
- تخصصي روغتیایي مرستې
- اروایي تولنیزې مرستې
- ځایي تولنیزه شبکه
- حقوقي مشوره

## د پروګرام ګټه اخیستونکی باید تر راستنیدنې وروسته ژر تر ژره په لاندې ادرس د آی او ایم دفتر سره اړیکه ونیسي

د (ERIN) ځانګړی فعالیت
په افغانستان کې د آی او ایم د اړیکو مسؤول
ښاغلی محمد هاشم، د بیامیشته کیدنې د چارو مرستیال
د یکشنبې نه تر پنجشنبې، د سهار د ۸:۰۰ څخه د مازیګر تر ۵:۰۰ بجو پورې
بریښنالیک: MHASHIM@IOM.INT
ګرځنده تیلیفون: 414 991 771 (0) 93+
ادرس: د کډوالی نړیواله اداره
آی او ایم کابل
کوڅه ۳، کور ۲۸
انصاري څلورلارې
کابل، افغانستان
ویپاڼه: iom.belgium.iom.int/?q=afghanistan-http://erin

**د لازیاتو مالوماتو لپاره د ایرین ځانګړي فعالیت افغانستان لند یادابنت ته وروګرځئ**

## د (ERIN) ځانګړي فعالیت تمویلونکي

دا پروګرام د اروپایي کمیسون ( د اروپایي پناه غوښتنې، کډوالی او میشته کیدنې بودیجه) او همداراز د اوولس برخه اخیستونکو هیوادونو د ادارو لخوا تمویلیږي:

| د ایرین ځانګړي فعالیت پروګرام ملګري هیوادونه او اداري | |
|---|---|
| **هیوادونه** | **اداري** |
| اتریش | د کورنیو چارو وزارت |
| بلجیم | د پناه غوښتونکو هرکلي له پاره فدرالي اداره |
| ډنمارک | د باندنیو چارو وزارت |
| فنلند | د فنلند د کډوالی خدمتونه |

| | |
|---|---|
| فرانسه | د فرانسې د کډوالۍ او میشته کېدنې اداره |
| جرمني | د مهاجرينو او کډوالۍ فدرالي دفتر |
| یونان | د عامه نظم او وګړو مسؤونيت وزارت |
| ایټالیا | د کورنيو چارو وزارت |
| لګزمبورک | د اروپايي او باندنيو چارو وزارت |
| مالټا | د ملي امنيت او کورنيو چارو وزارت |
| نیدرلند | د راستنيدنې او ويستلو خدمتونه |
| ناروی | د ناروی د کډوالۍ رياست |
| رومانیه | د کډوالۍ عمومي تفتيش |
| اسپانیا | د کډوالو میشته کېدنه<br>د کډوالۍ بورډ |
| سویډن | د سويډن د کډوالۍ اداره |
| سویزرلند | د کډوالۍ دولتي سکرټريت |
| برتانیه | د کورنيو چارو وزارت – د کډوالۍ اداره |

Co-funded by the Asylum, Migration and Integration Fund

ERIN
European Reintegration Network

International Organization for Migration (IOM)
Organisation internationale pour les migrations (OIM)
Internationale Organisatie voor Migratie (IOM)